# د مفتي عبدالحنان
# داعي کليات

سريزه، اوډنه، پرتلنه او وييپانګه

**بشرمل زرغون**

د مفتي **عبدالحنان داعي**
کليات

سريزه، اوډنه، پرتلنه او وييپانګه
**بشرمل زرغون**

**۱۳۹۹ هـ . ش**

# The Collection of Mufti Abdul Hanan Daie's Poems




Prapered by: Basharmal Zarghoon

**2020**

ISBN 978-9936-661-05-9

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د مفتي عبدالحنان داعي کلیات

سریزه، اوډنه، پرتلنه او وییپانگه

بشرمل زرغون

۱۳۹۹هـ. ش

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم**: **د مفتي عبدالحنان داعي کليات**

**شاعر**: اروابناد مفتي عبدالحنان داعي

**سريزه، اوډنه، پرتلنه او وييپانګه**: بشرمل زرغون

**مهتمم**: ب، زرغون

**کمپوز او ډيزاين**: ب، زرغون

**خپرندوی**: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د چاپ ځای**: الهام نبي زاده، کابل، افغانستان

**د چاپ کال**: ۱۳۹۹ هـ. ش/ ۲۰۲۰ م

**د چاپ شمېر**: ۵۰۰ ټوکه

**ISBN**: ۷۷۸-۹۹۳۶-۶۶۱-۰۵-۹



د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ

دوو ګرانو او منلو مشرانو ته!

ښاغلي معلم صیب حیات الله حقدوست ته!

چې د ده په وسیله دویمه نسخه پیدا او دا کلیات ترې جوړ شو.

خپل ګران او منلي مشر تره انجنیر عبدالله خان زرغون عبدالرحیمزي ته!

چې تر دې دمه یې ډېر هڅولی او نازولی یم.

الله جل جلاله دې ښه او خوشحاله لري.

**زرغون**

# ليکلړ

گڼه مخ

۱: د خپرندوی یادښت.....خپرنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب ............... أ

۲: د داعي مرحوم عبدالحنان اخوندزاده کلیات.....محمدسرور سودمند .... د

۳: لنډون ................................................................ ح

٤: مفتي عبدالحنان داعي.......بشرمل زرغون ....................... ط

۵: غزلې.................................................................. ۳

٦: قطعې................................................................ ۱۳۱

۷: مقامونه.............................................................. ۱۳۷

۸: داستانونه........................................................... ۱٤۷

۹: چاربیتې............................................................. ۱۵۵

۱۰: داستاني چاربیتې.................................................. ۱۸۹

۱۱: زنځیري داستاني چاربیتې......................................... ۲٤۵

۱۲: لوبییزې چاربیتې................................................... ۳۵۱

۱۳: بگتی................................................................ ۳۸۷

۱٤: لوبې................................................................. ٤۳۱

۱۵: پارسي وینا.......................................................... ٤۵۱

۱٦: وییپانگه............................................................ ٤٦۹

# د خپرندوی یادښت

ولسي ادبیات د هر ولس، ټولنې او ملت په ادبي تاریخ کې له ارزښت او اهمیته ډکه ونډه لري چې د هغو له یادونې پرته د هغو د ژبو او ادبیاتو مطالعه نیمګړې ګڼل کېږي، دغه ادبیات معمولاً شفاهي بڼه لري او په هغو ولسونو یا ټولنو کې زیات پیاوړي وي چې د لیک لوست خپرېدنه پکې ډېره نه وي عامه شوې، زموږ هېواد او په عام ډول افغاني ټولنه هم د تاریخ بېلابېلو دورو کې د ځانګړو مسلطو سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي، فرهنګي او جغرافیوي شرایطو او عواملو په موجودیت کې د دغسې ټولنو او ولسونو د کتار په لومړیو لیکو کې راځي؛ نو ځکه پکې د ولسي ادبیاتو پانګه د لیکلو ادبیاتو په پرتله ډېره درنه او شتمنه ده.

د دې ادبیاتو له مطالعې ښکاري چې زموږ زیاترو وګړو د پېړیو په اوږدو کې خپلې هیلې، غوښتنې، ارمانونه، خوښۍ، غمونه، رنځونه، مینې، کرکې او... لنډه دا چې د ټولنیز ژوند ټول کړه وړه یې په همدغو ولسي ادبیاتو کې منعکس کړي او له معمول سره سم یې په شفاهي توګه له یو نسله بل ته خوله په خوله او سینه په سینه لېږدولي دي.

د یادونې وړ ده چې د دغه لېږدېدو په بهیر کې د دغو ادبیاتو ډېره برخه هېره شوې او له منځه تللې ده؛ خو هغه لږه برخه چې راټوله شوې او خوندي

شوي؛ نو ډېره برخه يې لا په ولس کې خوره وره پرته ده، هغې ته په کتنه همدومره بډايه ده چې ښايي د نړۍ بله هېڅ ژبه ورسره برابري و نه کړای شي.

دغه ستاسې په لاس کې د ولسي شعرونو ټولګه د پښتو د ولسي ادبياتو د راټولې شوې او خوندي شوې زېرمې يوه بېلګه ده چې وېناوال يې زموږ پياوړی ولسي شاعر مرحوم مفتي عبدالحنان داعي (۱۲۶۰- ۱۳۲۳ هـ ش) دی چې د لغمان د ده زيارت، غونډۍ په کلي کې يې په يوه روحاني او درنه کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانېستې دي، لومړني ديني علوم يې په خپلې کورنۍ او سيمه کې؛ بيا وروسته د لوړو ديني علومو پسې پښتونخوا، پېښور او د کونړ ځينو سيمو ته تللی او عالم، فاضل او اديب شخصيت ترې جوړ شوی، د امير حبيب الله خان او امان الله خان د واکمنيو پر مهال (۱۲۹۰- ۱۳۰۱ هـ ش) د لغمان په محکمه کې محرر، د اعليحضرت محمدنادرخان د واکمنۍ په کلونو کې د کونړ د محکمې مفتي او بيا تر (۱۳۱۹ هـ ش) پورې د اعليحضرت د صدارت د عظمي فرمانونو د ليکونکي او په (۱۳۱۹- ۱۳۲۳ هـ ش) کلونو د مزارشريف د اقچې په محکمه او د شينوارو د کهۍ د محکمې د مفتي په توګه دنده ترسره کړې او د مفتي عبدالحنان په نوم له لوړ نوم او شهرته برخمن شوی، شاعري يې په نوې ځوانۍ (۱۶) کلنۍ کې پيل کړې او د ژوند تر پايه (۱۳۲۳ هـ ش) کې د زړه په مينه او وينه پاللې ده، د يوه پياوړي ولسي شاعر په توګه يې د ولسي شاعرۍ په ټولو اصنافو (بدله، لوبې، بګتۍ، چاربيتې، داستان او...) خپله پياوړې شاعرانه وړتيا آزمويلې او د خپل ولس او خلکو ډېرې هيلې، ارمانونه، دودونه، ديني، مذهبي حکايتونه او روايتونه، له پند او عبرته ډکې کيسې يې د ولسي شاعرۍ په کالبونو کې خوندي کړي، خپلو هممهالو او راتلونکو نسلونو ته يې د شعر په خوږه او رنګينه ژبه لېږدولي دي.

زموږ ځينو فرهنګپالو د دغه پياوړي ولسي شاعر له پند او خونده ډک شعرونه راټول کړي او په ځينو ټولګو کې يې خوندي کړي او خپاره کړي هم دي او له ورکېدنې يې ژغورلي دي، د شعرونو يوه لويه قلمي نسخه يې د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې خوندي ده، په دې وروستيو کې يې يوه بله نسخه د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون آمر ځوان فرهنګپال، ليکوال او شاعر ښاغلي بشرمل زرغون راپيدا کړې او ترلاسه کړې ده چې دا دی له دغو دواړو خطي نسخو او ځينو متفرقو راټولو شوو او خپرو شوو چاپي رسنيو کې د خپرو شوو شعرونو په مقابله، تصحيح او سمونه يو نسبتاً بشپړ کليات چاپ ته چمتو کړی دی.

د افغانستان د علومو اکاډمي وياړي چې دا ځل د خپلو علمي- فرهنګي چارو په لړ کې د هېواد د يوه پياوړي ديواني او ولسي شاعر د شعرونو يوه لويه او ارزښتمنه پانګه د (مفتي عبدالحنان داعي کليات) په نوم د شعر او ادب مينه والو ته د يوې ادبي- فرهنګي ډالۍ په توګه وړاندې کوي، ويناوال ته يې د لوی څښتن تعالی جل جلاله له درباره ښښنه او زيارکښه تدوين کونکي ته يې د نورو غوره فرهنګي خدمتونو لپاره د بريالیتوب هيله کوو.

**درښښت**

**څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکيب**

**د افغانستان د علومو اکاډمي رئيس**

۱۳۹۹/۹/۱۳

بسم الله الرحمن الرحیم ؕ

# د داعي مرحوم عبدالحنان اخوندزاده کلیات

## د داعي عبدالحنان پېژاندګلوي

مرحوم داعي عبدالحنان د مرحوم عبدالرحمن اخوندزاده زوی، د برهان الدین اخوندزاده لمسی، د غلام محمد اخوندزاده کړوسی چې مشر نیکه یې سیدمحمد اخوندزاده نومېده؛ د سلیمان غره د محاذ د بنو دامان د علاقې، د لوهاڼ(لواڼ) له ملاخېلو څخه و او د ده دغه مشر نیکه د مهترلمک بابا د زیارت په شوق لغمان ته راغلی و.

وایي چې په لغمان کې لا د ده څلوېښت شپې ورځې نه وې تېرې شوې چې د لغمان موسی خېل (اغرخان) د خپلې پېرزو او مهربانۍ په غېږ کې ونیوه، د دواړو په منځ کې خوږه مینه او محبت ورځ په ورځ زیاتېده، د ازل کړه خپل کار کوي او ازلي کښلي نه بدلېږي، نوموړي خان خپله پېغله خور په شرعي نکاح (کې) ورکړه، په لغمان کې د مېشتې په ډول وپاېد؛ بیا څه موده وروسته د حج لپاره بیت الله شریف ته ولاړ او د دغه مقدسو دیني فرایضو له ادا وروسته وفات او فاني دنیا څخه یې رحلت کړی دی.

له دې لنډ تذکر څخه به اوس د داعي عبدالحنان پېژندګلوۍ ته راستون شم:

داعي عبدالحنان اخوندزاده چې يوې لويې کورنۍ ته منسوب دی؛ د مشرقي د لغمان د ده زيارت، د غونډۍ په کلي کې چې په (ده زيارت) مشهور دی؛ په (۱۲٦۰ ش) کې زېږېدلی دی، ابتدايي علوم يې لومړی له خپل پلار او بيا يې له خپلو ترونو: شاجي او ميرجي څخه لوستلي؛ وروسته يې نور تحصيل په پېښور کې له ګاړې مولوي محمدخطاب صاحب او څه موده يې د مشرقي د ښېوې له سيدکمال صاحب نه هم سبق لوستلی دی.

داعي عبدالحنان په صرف، نحوه، منطق، رياضي، معاني، فقه، تفاسيرو او احاديثو کې يو متبحر عالم او پوره لاس يې درلود چې په نتيجه کې يې د شعر او ادب احساسات وښورېدل، د بلبل په شان يې شاعرانه سندرې د مينې او محبت له سوز او ګداز سره هرې خواته خپرې شوې.

په شاعرانه ګلشن يې د ادب مرغلرې توی شوې، په مينه او محبت کې يې روانه شاعري په هر چا خوږه لګېدله، شاعرانه مستۍ داسې قلندر کړ چې طالبانو ته به يې په قرار زړه درس نه شو ورکولی، دغه تاثير ته د (١٦) کالو په عمر د مهترلمک بابا په زيارت کې د مرحوم شېخ احمدخان متولي له روح څخه چې هغه هم په خپل وخت کې لوی شخصيت درلود او د شاعرانه خيالونو مستو احساساتو خاوند و؛ روحي نشې او تماشې يې ترې حاصل کړې وې، په دغه ننداره کې يې د شعر او ادب له جهان سره مينه کلکه شوه، په پښتو او فارسي يې د شعر بازار تود شو؛ سره له دې چې د ده د ادب ګلشن يو ځانګړی سمسور بڼ دی؛ خو بيا هم څه ناڅه د ده د شعر قافله د رحمان بابا د سبک په لاره روانه ده.

داعي عبدالحنان په خپلو ځینو اشعارو کې د خپل نوم په ځای داعي او مفتي د تخلص په ډول یاد کړي دي، داعي د قادریې طریقې په سلسله کې شامل او د تګاب ملا صاحب مرید او صوفي مشربه قانع شخص و، ډېره خوږه طبع یې لرله، د شعر، عروض، موسیقۍ او نورو ټولو ادبي فنونو کې د ښو معلوماتو خاوند و، داعي عبدالحنان د شاعرۍ دیوانونه لرل؛ خو له ده نه وروسته د ده له شاعرانه دیوانو سره د دوی علمي کورنۍ دومره علاقه نه درلوده، زیاته توجه او پاملرنه یې نورو علمي کتابونو او تحصیل ته اوښتې وه؛ نو له دغې کبله چاپ شوي نه دي او ډېر اثار یې د زمانې بادونو له منځه وړي دي.

د نوموړي مرحوم دوه جلد قلمي دیوانونه چې ماته معلوم وو؛ د دغه مرحوم له زوی (مولوي محمدحسین) اخوندزاده صاحب نه وغوښتل چې ده دغه څیرې شوې پاڼې- پاڼې قلمي دیوانونه ماته راکړل، په ډېر کوشش سره مې (۲۷۴۴) پښتو بیتونه او (۲۳۴) فارسي غزلې په یو جلد کې ترتیب او راټول کړل چې اوس یو بشپړ جلد دی.

## د داعي عبدالحنان رسمي ماموریتونه

له (۱۲۹۰) نه تر (۱۳۰۱) پورې د لغمان په محکمه کې محرر او د شهید اعلیحضرت محمدنادرشاه د پاچاهۍ په لومړۍ دوره کې د کونړ د محکمې مفتي مقرر شو او له (۱۳۱۱) نه تر (۱۳۱۹) پورې د مرحوم سردار محمدهاشم خان د افغانستان د مدیر صدراعظم له خوا د ښه خط لرلو له امله د صدارت عظما د فرامینو د لیکلو په وظیفه وټاکل شو، له (۱۳۱۹) نه تر (۱۳۲۰) پورې د مزارشریف د اقچې د محکمې په افتا مصروف و، د (۱۳۲۰) په اوایلو کې د مشرقي، د شینوارو د کهۍ محکمې ته تبدیل شو، د هغه ځای د ماموریت د

څلورو کالو په دوره کې د (۱۳۲۳) د عقرب په لسمه ورځ د ناروغۍ له کبله په (٦٣) کلنۍ عمر يې د لغمان د ده زيارت، د غونډۍ په کلي کې له ژوند سره وداع وکړه او د مهترلمک بابا په بڼ کې ښخ شوی دی.

زه په دې ډېر خوښ يم چې د خپل ماما ادبي ټوټې مې راټولې کړې او د ده د مينې او محبت ويناوې ورکې نه شوې.

**محمدسرور سودمند**

**۱۳۳۴/۷/۱۰ ل**

## لنډون

ځينې نومونه په لنډ ډول ښودل شوي چې په لاندې ډول دي:

۱: الف. ن، د افغانستان د علومو اکاډمۍ نسخه.

۲: ب. ن، د بشرمل زرغون نسخه (بېله نسخه).

۳: چ. د، چاپ ديوان.

# مفتي عبدالحنان داعي

(۱)

## شاعري يې

داسې ويل کېږي چې لغمان يوه ډېره تاريخي سيمه ده او له تاريخوالي سره- سره ډېره ښېرازه، زرغونه او شاعرانه سيمه هم ده، په دې سيمه کې ډېرې تاريخي پېښې تېرې شوې دي، په دې سيمه کې ډېر نوموتي عالمان، ليکوال او شاعران تېر شوي، دلته يې اوس له نورو اړخونو سره کومه اړيکه او کومه خبره نه اوږدو؛ يواځې د يوه نوموتي، پياوړي، غښتلي، عالم او شاعر چې تر ډېره په ولسي شاعرۍ کې د استاد مقام او ځای لري؛ خبرې کوم چې نوموړی مفتي عبدالحنان داعي نومېږي.

مفتي عبدالحنان د لغمان په ټولو شاعرانو کې د ښې درجې خاوند شاعر دی، ډېره رنګينه، خوږه او په زړه پورې شاعري يې کړې، ټوله شاعري يې اهنګواله ده، روانه شاعري يې کړې، د هر سړي د ذوق شاعري يې کړې، د نورو شاعرانو په شان د شاعرۍ د پيلبدو لامل په خپله ښي:

**شېخ احمدخان له قبره شو شعر مې جاري واري، کوم خواري، زاري**

**د يار په در کې**

نوموړي خپله شاعري تر ډېرې پټه ساتلې وه؛ خو کله چې د کونړ په تنر کې یو څه وخت په دنده گومارل شوی؛ نو هلته د رحمان بابا خبره:

**دا دستور دی چې لـه درده زگېـروی خېـژي**

**گنـــې څـــه و د رحـــمان لـــه شـــاعری**

ده هم بیا زړه په رښتینې معنا بایللی، د نظری په نامه په یوې ښځې مېن شوی و، په شاعری کې یې څو ځایه یاده کړې:

**نظری نظر ته دې محتاج عبدالحنان وینم**

**سبا بېلتون دی مساپر به په لغمان گرځي**

- - -

**زه شاه نظری چې ښاپسته په گاڼه پوره یمه**

**ډېره خوشنوره یمه**

له شاعری یې هر سړی په ښېل ډول خوند اخیستی شي، ده چې کوم ډول شاعري کړې او په شاعری کې یې چې کوم پټ خوند او ذوق پروت دی؛ هغه په الفاظو نه شي بیانېدی، شعر یې خپل دی، رنگ یې خپل دی او فورم یې هم خپل دی:

**نور مې توبه شه زیاتي نه وړمه ستم، د غم، زړه مې قلم شو، دم ترینه بهېږي**

- - -

**دا ستا په مینه کې خبر تمام، عالم، امم، عرب، عجم، ملهم په ما لگېږي**

نورو شاعرانو چې په خپل وخت شاعرانه تعلي کړې؛ نو زموږ مستانه او خوږ شاعر عبدالحنان هم له هغو کم نه دی، خپله شاعرانه تعلي يې په زغرده ښکاره کړې:

**سرحلقـــه د شـــاعرانو احمـــدخان دی**
**زه حنـــان د اوســـنيو لکـــه پـــلار يـــم**

- - -

**شـــاعران د زمـــانې راتـــه طفـــلان دي**
**زه د دوی پر مخ پېشوا لکه يـو پـير يـم**

له دغو خبرو که راتېر شو؛ نو مفتي عبدالحنان يو نوموتی او ژمن شاعر تېر شوی، شاعري يې ټوله د ولس لپاره کړې، د ولس د خوښۍ لپاره يې کړې، په شاعرۍ کې يې ولسي رنګ تر ډېره ليدل کېږي، دی دوه اړخيزه شاعر دی او دا ځکه چې خپل ملي فورمونه يې تر ډېره پاللي دي، نوموړي دوه ډوله شاعري کړې:

**لومړی: ديواني شاعري**

**دويم: ملي شاعري**

اروابناد حنان چې دغه دوه ډوله شاعري کړې؛ دواړه ډوله شاعري يې په ولسي رنګ کې رنګ ده، د دغو دواړو ډولونو يو بل کې رنګول او بيا ترې يو بل ډول جوړول د حنان د شاعرۍ يوه ځانګړنه ده، شاعري يې د هغه وخت په سيمه ييزه موسيقۍ کې ښه په سور او تال ويل شوې او اوس هم ويل کېږي.

اروابناد عبدالحنان تر ډېره نصيحتي شاعري هم کړې، خلک يې ښې لارې ته رابللي دي، نوموړی په زغرده غږ کوي چې:

**د گناه لـه خـيري ځـان سـاته هرګـوره!**
**د تــوبې پــه صــيقل کــا زړګــی صــفا**

- - -

**اخـر بـه لاړ شـې تـه لـه دې دنيـا**
**وکـــړه ســـودا پـــه بـــازار د دنيـــا**

او له دې سره بيا دا هم وايي چې هوښياران او ښه خلک سهر وختي پاڅېږي، د وخته پاڅېدو لپاره د خپل محبوب ليدنه تر سره کېږي:

**پاڅېږه غافله صبحدم دی استغفار کـا**
**کـه هوښـيار يـې طلـب د ديـدار کـا**

بېکاره او له ريا ډک عبادت د چرګ له نارو سره تشبېه کوي او دا کار يې په خپله هم نه خوښېده:

**چرګه هسې په نارو دې کړ ځـان سـتړی**
**لکه ژرنده چې پارچاو کـړي ژرنـده ګـړی**
**هېڅوک نه کـوي عمـل سـتا پـه بـانګونو**
**لکه ته چې کړې دا کار نه دی چـا کـړی**

- - -

**د ريـا تسـبې پـه لاس پګـړۍ پـه سر کـا**
**دام د مکـــر پـــه عوامـــو برابـــر کـــا**[1]

که په لنډ ډول ووېل شي چې مفتي عبدالحنان داعي تر ډېره ولسي شاعري کړې، د ولسي شاعرۍ هر فورم کې يې خپله طبعه ازمايلې او نوموړی

---

[1]: شعرونه ټول له (الف) نسخې راخيستل شوي دي.

تر ډېره پکې بريالی ښکاري، ده لوبې، مقامونه، داستانونه، ولسي رنګه غزلې، بګتۍ او پښتو چاربيتې ښې ډېرې ليکلي دي، په چاربيتو کې تر ډېره استاد ښکاري، هر اړخيزې چاربيتې يې ليکلي دي.

د عبدالحنان د ولسيتوب رنګ بېل دی، په ولسي شاعرۍ کې يې بېله لاره ده، ولسي شاعري يې هم په ديواني ترتيب کې اوډلې ده؛ خو بشپړه نه ده، ځينو ځايونو کې له منځه تللې؛ کنه ده خو تر ډېره پکې خواري کړې.

د چاربيتو څېړونکو ته ډېرې په زړه پورې او هر اړخيزې چاربيتې لري، کولی شي چې هر ډول چاربيته ترې انتخاب او وټاکي.

مفتي عبدالحنان په خپلې شاعرۍ کې تر ډېره ولسي پانګه ځای کړې، په شاعرۍ کې يې ادبي نومونې، ګړنې او متلونه ډېر موندل کېږي، له دې سره يې په ډېرو نقدونه هم کړي، زه به يې يواځې د متلونو او د نقد په برخه کې يو-يو شعر راوړم؛ همدارنګه نوموړي د خپل زوی د مرګ په وير، د اعليحضرت محمدنادرشاه په ستاينه کې هم شعرونه ويلي دي، کندهار، ننګرهار او کونړ کې يې هم وخت او دندې تر سره کړي چې دلته يې په لنډه توګه راوړم:

**متلونه**: اروابښاد عبدالحنان په خپلې شاعرۍ کې ډېر زيات متلونه کارولي دي، يو څو بېلګې يې دا دي:

**دنيا کښت د اخرت دی، څه کرې؛ هغه به رېبې**
**حنــان هــېڅ کــرلي نــه دي الهــي پروردګــاره**

- - -

**که له بدو سره ګرځې؛ بـد بـه پرځـې**
**لـه نېکـانو سره ځـان کـه همجليسـه**

**نقد**: حنان د خپل وخت او یا له ده نه که یو څه اندازه وړاندې تېر شوي دي؛ نو په هغو یې دا ډول نقد کړی:

**څه یعقوب[۱]، څه یې سرور[۲]، څه یې لا نور دي**
**حق حیران د اوسنیو په تقریر یم**

**د ځینو خلکو یادونه**: مفتي حنان د خپل زوی د مرگ په ویر ژړلېدلی، په دې اړه وایي:

**غړوم سترگې لټومه غلامجان نه وینم**
**نوراني څوان نه وینم**

د غازي محمدنادرشاه په باره کې یې چاربیته لیکلې چې په دې ډول ده:

**پادشاه یې د اسلام**
**غازي شېر د یزدان یې ته**
**چې ودې گاټه نام**
**په توره پهلوان یې ته**

**د ځینو ولایتونو یادونه**: د کندهار یادونه په دې ډول کوي:

**عبدالحنان که د لغمان په لور روان شي**
**بیا د ده له کندهار نه توبه**

- - -

**په حنان باندې که ستا مهرباني وای**
**ده به څه غوښتل له ښار د کندهاره**

---

[۱]: یعقوب ولسي شاعر و، اولسي سندرې کې یې شعرونه راغلي دی.

[۲]: سرور هم ولسي شاعر و، په اولسي سندرې کې یې شعرونه راغلي دي.

کونړ یې دا ډول یاد کړی:

**کاشکې زه حنان خو پاتې په کونړ وای**
**چې مې مینه دا ستا ولیدی دریغ**

- - -

**عبدالحنان چې په خودبینو کې هستېږي**
**ارمان ځکه د لغمان او د تنر کا**

د ننگرهار په شینوارو کې یې وخت تېر کړی، په محکمه کې یې د محرری دنده ترسره کړې ده:

**زه چې وم محرر په خپله**
**په لغمان کې ما کوله**
**اوس یمه مفتي په شینوار، نوم مې حنانه**

- - -

**عبدالحنان یم مفتي**
**دا ستا په عشق تومتي**
**زړه یې چور، له تا دور، په شینوار وار دی**
**(۲)**

## شعري لار

موږ تر دې دمه یو څو مهم او غوره ادبي مکتبونه لرو او په دغو ادبي مکتبونو کې ډېر بې شماره لیکوال او شاعران روزل شوي او پالل شوي دي، هر سړي بیا خپله شعري لار ځان ته موندلې، په همغې لارې روان شوي؛ نو چې کومه لاره وپالي؛ د همغې لارې پیرو بلل کېږي، عبدالحنان تر ډېره د رحمان

بابا د مکتب پیرو دی، یو څه زیات شعرونه یې د رحمان بابا په رنګ کې رنګ دي[1].

بایده دي چې لومړی د رحمان بابا عرفاني او تصوفي مکتب وپېژنو او د دغه مکتب ځینې مهمې ځانګړنې به په لنډ ډول راوړو او ورپسې به د خپلې خبرې د زبات لپاره د رحمان بابا او د عبدالحنان ګډ سبکي شعرونه هم راوړو.

## د رحمان بابا تصوفي او عرفاني ادبي مکتب

رحمان بابا د پښتو یو پیاوړی او منلی شاعر دی، نوموړي ډېره خوږه، روانه او ساده شاعري کړې، شاعري یې د تصوفي او عرفاني ځانګړنو څښتنه ده؛ نو په همدې اساس دغه مکتب د رحمان بابا په نامه نومول شوی دی.

د دغه ادبي مکتب ځینې مهمې ځانګړنې په دې ډول دي:

۱: د دغه ادبي مکتب پلویان زیاتره د اخلاقو او نصیحتونو د بیان خواته ډېره پاملرنه کوي.

۲: د تصوف او عرفان پېچلې مسئلې په ساده، روانه، خوږه او رنګینه ژبه بیا نوي، چې دا یې یوه ستره ځانګړنه ده.

۳: د عربي او فارسي ژبو کلمات، نومونې، تشبیهات او استعارات په پراخه کچه پښتو شاعرۍ ته راننوتي دي.

۴: د پښتو شعر وده موندلې او ډېرو شاعرانو د خپلو شعرونو دیوانونه اوډلي دي.

[1]: ادبي تیوري، سید محی الدین هاشمي، مهین خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ ل.

۵: په دغه ادبي مکتب کې د پښتني چاپېريال خپل رنګونه په ځلېدو دي او د هندي سبک(مکتب) اغېزې پکې ډېرې نه ليدل کېږي.

٦: د دې ادبي مکتب د پلوي شاعرانو په ځينو شعرونو کې د هنر او شاعرانه خيالونو نړۍ خپلې ځانګړنې لري، انځورونه او خيالونه يې ساده؛ مګر ډېر ښکلي، په زړه پورې او له لوړ ادبي معيار نه برخمن دي.

۷: د نوموړي ادبي مکتب پلويان واقعيتونو ته ډېره پاملرنه کوي او د خيال پلويتوب او پيروي پکې ډېره کمه ده.

۸: د ياد ادبي مکتب پلويانو له پښتو سربېره په فارسي او هندي ژبو هم شاعري کړې ده[1].

د دغو ځانګړنو پر اساس ويلی شو چې مفتي عبدالحنان داعي هم د همدغه سبک پيرو او لاروی دی، يادې ځانګړنې د نوموړي په شعرونو کې له ورايه تر سترګو کېږي.

دلته به لومړی د رحمان بابا شعرونه او بيا به د عبدالحنان هغه شعرونه چې د رحمان بابا د سبک پيروي کوي؛ راوړم:

رحمان بابا:

**و هر چا ته په خپل شکل ځرګندېږم**
**آيينې غوندې بې رويه بې ريا يم**

عبدالحنان:

[1]: د ادبپوهنې ځانګې، سيد محی الدين هاشمي، مهين خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳ ل، ۲۷۸ او ۲۷۹ مخونه.

**په سبب دا ستا د مینې زما جانه!**
**آیینې غوندې صفا روښن ضمیر یم**

رحمان بابا:

**ښه ده، ښه ده دا دنیا**
**چې توښه ده د عقبا**

عبدالحنان:

**ښه ده، دنیا ښه ده، چې د دین دنیا توښه ده**
**واوره ته عبدالحنانه بې توښې نه شې روان**

رحمان بابا:

**خوب خندا په بې غمۍ کېږي رحمانه**
**چې په زړه یې د یار غم وي څه به خوب کا**[1]

عبدالحنان:

**خوب هغه کاندي حنانه! چې بېغم وي**
**چې به تا غوندې غمجن ګرځي خواب څه کا**[2]

[1]: د رحمان بابا دېوان، د ډاکتر څېړنپوه سید محی الدین هاشمي په سریزه او خطاطۍ، خپرندوی: آریانا کتبخانه، ډهکي نعلبندي، قصه خوانی بازار، پېښور، چاپځای: آریانا چاپ مرکز، چاپکال: ۱۹۹۸/۱۳۷۷.

[2]: شعرونه ټول له (الف) نسخې څخه اخیستل شوي.

## د مفتي عبدالحنان داعي اثار

زما د لوستنو او کتنو پر اساس داسې ډېر لږ شاعران تېر شوي چې خپل اثار یا شعرونه یې په خپله نه وي راټول کړي او بیا یې ... داعي

زما د لوستنو او کتنو پر اساس داسې ډېر لږ شاعران تېر شوي چې خپل اثار یا شعرونه یې په خپله نه وي راپېژندلي، اروانباد مفتي عبدالحنان داعي هم یو له هغو شاعرانو څخه دی، چې خپله شاعري یې په خپل شعر کې نه ده یاده کړې، چې څومره شعرونه یا څومره کتابونه یې لیکلي؛ خو د ده د خوریي د وینا په اساس:

((...داعي عبدالحنان د شاعرۍ دیوانونه لرل؛ خو له ده نه وروسته د ده له شاعر انه دیوانونو سره د دوی د علمي کورنۍ دومره علاقه نه درلوده، زیاته توجه او پاملرنه یې نورو علمي کتابونو او تحصیل ته اوښتې وه؛ نو له دې کبله چاپ شوي نه دي او ډېر آثار یې د زمانې بادونو له منځه وړي دي، د نوموړي مرحوم دوه جلد قلمي دیوانونه چې ماته معلوم وو؛ د دغه مرحوم له زوی (مولوي محمدحسین اخندزاده صاحب) نه مې وغوښتل، چې ده دغه څیرې شوې پاڼې- پاڼې قلمي دیوانونه ماته راکړل...[1])).

ویل کېږي چې نوموړي ډېر زیات شعرونه او کتابونه لیکلي وو؛ خو دا چې له منځه تللي او یا ورته سهي پاملرنه نه ده شوې؛ دا بېله خبره ده؛ خو د همدغو څرګندونو پر اساس داسې ویل شوي چې عبدالحنان ځینې یو څو واړه نظمي کتابونه هم درلودل، دلته به یې په لنډ ډول دروپېژنم:

---

[1]: د داعي مرحوم عبدالحنان اخندزاده کلیات، د محمدسرور سودمند ټولونه او لیکنه، ۱۳۳۴ ل.

۱) **شمایل نامه**: شمایل نامه له پخوانه ډېرې لیکل شوي، په نظم او نثر دواړو ډولونو لیکل شوي دي، چې د تېرو شمایل نامو په اساس اروابناد عبدالحنان هم یوه وړوکې منظومه شمایل نامه لیکلې ده.

شمایل نامه د محمد صلی الله علیه وسلم د ستاینو، کړنو او ځینو خویونو یادونه په ځان کې رانغاړي.

مفتي عبدالحنان د شمایل نامې په نامه یوه منظومه چاربیته لیکلې، دغه داستا نې ډوله چاربیته گلکي استاذ له موسیقۍ سره هم ویلي، په دواړو نسخو او چاپي دیوان کې نوموړې شمایل نامه نشته، ما سره د اروابناد گلفقار کاکا یوه پخوانۍ تذکره ډوله کتابچه کې بشپړه پیدا شوه، پیته یې هم ماسره شته، دواړه مې سره پرتله کړې او دلته مې په بشپړ ډول راوړه.

د سربند یې په دې ډول دی:

**شاگرد ته وایه چې هر څوک په دې خبر شینه**
**دا شمایل د پېغمبر څومره ثواب لري**

د ځینو خلکو د ویناوو په اساس کېدای شي چې عبدالحنان په دې اړه نور ډېر شعرونه ویلي وي؛ خو اوس یې همدا یوه شمایل نامه لاسته راغلې ده[1].

۲) **حکایت نامه**: په دغه نامه یو منظوم حکایت چې د داستاني چاربیتې په فورم کې ویل شوی؛ په (الف) نسخه کې شته، په (ب) او (چ، د) کې نشته، په (الف) نسخه کې یواځې د چاربیتې سر ته په لېندیو کې (حکایت) لیکلی دی.

---

[1]: د لغمان ځینې مشران، ترونه مې او ځینې سپین ږیري.

دغه حکایت نامه یوه لویه چاربیته ده، په دې چاربیتې کې یې د پېغمبر علیه السلام له معجزو پیل، د ځینو دیني کتابونو یادونه او وروستۍ برخه د پښتو او پارسي زیات شاعران یې په ترتیب سره یاد کړي دي.

پیل یې په دې ډول دی:

**حکایت به د نبي خیرالبشر درته وایم**

**حقیقت به سراسر په زړه زور درته وایم**

تر دې دمه یې په دې اړه نور کوم شعرونه په لاس نه دي راغلي[1].

**۳) د مفتي عبدالحنان داعي دیوان**: نوموړی دیوان پورته په یوه اندازه پېژندل شوی؛ خو دلته د آثارو د ترتیب په اساس دومره ویل کېږي، چې دا دیوان ښاغلي محمدحسین احمدي راټول کړی او دانش خپرندویه ټولنې د زر ټوکو په اندازه، په ۱۳۸۱ ل په پېښور کې چاپ کړی دی.

په دې دیوان کې غزلې او یو څه اندازه چاربیتې راغلي دي؛ خو په شعرونو کې یې ګوتې وهل شوي، ښاغلی احمدي چې په کومو ځایونو نه دی پوه شوی؛ هغه یې همغسې پرې ایښي دي[2].

تر دې دمه د ارواښاد عبدالحنان د شاعرۍ دوه قلمي نسخې راته معلومې دي، یوه نسخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ په مرکزي کتابتون خطي نسخو کې د (۱۹۸) لمبر په شمېرې ثبت ده چې دلته د (الف) نسخې په نامه

---

[1]: مخکښی مأخذ.

[2]: د مفتي عبدالحنان داعي دېوان، سریزه او زیار: محمدحسین احمدي، چاپ: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۱ ل.

نومول شوې او بله زما ځانګړې نسخه ده چې دلته د (ب) نسخې په نامه یاده شوې، کیسه یې د (دا کلیات) په برخه کې راوړل شوې ده.

د (چ، د) په نامه (چاپ دیوان) چې دغه دیوان دانش خپرندویه ټولنې چاپ کړی؛ خو لومړی همدغه دواړه نسخې په لنډ ډول دلې در پېژنم:

**۱) الف نسخه**: دغه نسخه ما د (الف) نسخې په نامه نومولې او دا دې لپاره چې یاده نسخه د افغانستان علومو اکاډمۍ پورې اړونده ده، د علومو اکاډمۍ د نسخو په لړ کې د (۱۹۸) لمبر په اساس ثبت ده، نوموړې نسخه د مفتي عبدالحنان خوریي اروابښاد محمدسرور سودمند د مفتي حنان له مرګه یوولس کاله وروسته په ډېره منظمه توګه راټوله او ترتیب کړې، په دې نسخې یې د (د داعي عبدالحنان کلیات) نوم ایښی، د پاڼې په لومړي مخ یې د مکتوب په اساس (۱۷۵۰/۱۰/۷/ ۱۳۳۴) د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته استولې، ورپسې په دویم مخ کې د بسم الله په لیکلو د کلیاتو نوم او د محمدسرور سودمند نوم، لیکنه او کال په پنسل لیکل شوي دي.

په درېیم مخکې د ښاغلي سودمند لیکنه پیلېږي، عنوان یې په دې شکل دی:

(د داعي عبدالحنان پېژاندګلوي)

له همدې عنوان لاندې په لومړي مخ لیکنه او په بل مخ لیک نشته چې په دې حساب سره څه کم درې مخه لیکنه ده، کلک ډبل کاغذي پوښ لري، کچه یې (۲۴×۱۸) ده، د متن کچه یې (۱٦×۱۳)، کاغذ یې هندي دی، لیک یې نسخ او ځینې ځایونه په نستعلیق لیک پای ته رسېدلې ده، د نسخې هر مخ چې پیلېږي؛ نو په لومړي مخ یې شعرونه لیکلي دي، شعرونه یې په تور آبي

رنگه قلم لیکلي، یو نیم ځای پرې زرغون قلم هم کارېدلی دی، د پاڼې سر ته یې د پاڼو شمېره هم لیکلې ده چې ټوله نسخه (۳۴۱) مخه ده.

غونډ شعرونه یې د اوسنیو دیوانونو او یا کلیاتو په شان لیکلي؛ خو چاربیتې یې جلا کړي او سرته یې په لېندیو کې ځلوریز ورته لیکلې، له دې سره یې یو څو غزلو او یا چاربیتو ته هم په لېندیو کې وړوکي- وړوکي عبارتونه لیکلي؛ بس چې څه یې لیکلي؛ نو ما هم په همغه شکل رااخیستي دي، یو نیم شعر یا غزل یا چاربیته که نیمګړې وه؛ نو هغه مې له ترونو او یا له ګلکي استاذه رابشپړ کړي دي.

نسخه تقریباً اته ځایه دېرش- څلوېښت پاڼې شلېدلې ده او د یوه استاذ په وینا نوموړې نسخه په همغه وخت کې سانسور شوه، ډېر شعرونه ترې ووېستل شول[1].

دغه نسخه ما د خپل کار اصل ګرځولې ده او دا کار مې د دې لپاره وکړ، چې نسخه په منظمه توګه لومړی غزلې، بیا یې ټوله ولسي شاعري ترتیب کړې؛ خو یو ستونزه وه او هغه دا چې:

کوم شعرونه چې په دې نسخه کې دي؛ هغه بیا په (ب) نسخه کې نشته او کوم شعرونه یا یو نیم بند چې په (الف) نسخه کې نشته؛ هغه بیا په (ب) نسخه کې شته چې په همدې اساس مې له یو بل نه رابشپړ کړي دي.

له دغې لارې سره مې درېیمه لاره هم درلوده او هغه د ګلکي استاذ ځینې پیتې وې، د ده له کېسټو مې هم ځینې شعرونه بشپړ کړي، دوه ترونه مې اوس

[1]: څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي، د علومو اکاډمۍ علمي غړی.

هم ژوندي دي؛ دواړه دې الله جل جلاله راته ښه لري، له دوی مې هم ځینې شعرونه پوره کړي دي.

ما د دغې نسخې شعرونه و نه شول شمېرلی؛ خو ټولو شعرونو ته مې په پرله پسې ډول لمبر ورکړی، چې په اوسنۍ بڼه کې د کلیاتو په شکل چاپېږي، په یاد کلیات کې (۱۱۷) غزلې، (۳) قطعې، (٦) مقامونه، (۲) داستانونه، (٥٦) چاربیتې، (۲۹) بگتۍ، (۱۰) لوبې او (۱۱) پارسي شعرونه راغلي دي.

شعرونه مې ټول د سودمند د بېلوالي په اساس جلا کړي، یو نیم ځای که محمدسرور سودمند سهوه شوی؛ نو هغه مې په ترتیب سره جوړ کړي دي، د کلیاتو د ترتیب په اساس مې یوه ویپپانگه هم ورسره مله کړې ده.

زه باور لرم چې د اروابناد مفتي عبدالحنان داعي ډېر شعرونه او یا کیسې به پاتې وي، که چا ته معلوم وي؛ نو ما ته دې راوسپاري، که دلته چاپ نه شول؛ د یوې خپرونې له لارې کولی شم چې چاپ یې کړم.

ما تر ډېره خواري کړې، چې په ښه او منظم شکل کلیات برابر او چاپ شي، که بیا هم کومه غلطي او تېروتنه رانه شوې وي؛ نو له ټولو درنو استادانو، لیکوالو او کره کتونکو څخه هیله کوم، چې په سړه سینه کره کتنه او ما ته هر اړخیزه لارښوونه وکړي، زه یې په دواړو سترگو او لېمو منم.

**۲) ب نسخه**: یاده نسخه د (ب) په نامه نومول شوې او دا د دې لپاره چې بېله نسخه ده، زما په نامه (بشرمل زرغون نسخه) ده، د دغې نسخې کیسه مې د (دا کلیات) په برخه کې لیکلې ده چې د گران استاد حیات الله حقدوست له لوري ماته رارسېدلې ده.

نوموړې نسخه زیړ رنګي کاغذ باندې لیکل شوې، کاغذ یې زوړ غوندې دی، یو نیم ځای رژېږي، په اوږده شکل ده، پوښ یې شکېدلی و، ما بیا کلک پوښ ورکړ، کچه یې (۲۸×۱۷) ده، د متن کچه یې(۲٦×۱۷) ده، د سر دوه پاڼې یې سپینې پریښې دي، د پاڼې په لومړي مخ یې شعرونه لیکلي او بل مخ یې سپین پریښی، پیل یې په دې عنوان سره دی:

(د مرحوم داعي عبدالحنان ملاخېل لغماني د پښتو او فارسی اشعارو دیوان).

له همدې عنوان لاندې پیل یې په بسم الله شوی، شعرونه یې یو بل ته مخ په مخ لیکلي دي؛ یعنې لومړۍ نیم بیتۍ یې چې لیکلې؛ نو منځ کې یې (ژ) ډول نښه لیکلې او ورپسې یې دویمه نیم بیتۍ لیکلې ده.

د دې نسخې لیک هم نسخ دی، یو نیم ځای نستعلیق لیکل شوې، له تور رنګي قلم سره- سره سور او زرغون قلم هم پکې کارېدلی، دواړه نسخې د مفتي حنان خوریي لیکلي دي، د دغې نسخې د مخونو شمېره له (۱ نه پیل تر ۷۳) پورې ده، نوره یې همداسې سپینه پریښې، د (ب) نسخې د لیکلو کال نامعلوم دی، په یوه مخ یې د عبدالحنان پښتو شعرونه لیکلي او نسخه چې بل لور ته راواړوې؛ نو په پارسي یې د تصوف په باره کې بېلابېل معلومات راټول کړي، له همدغو پارسي معلوماتو سره یې د مفتي حنان ځینې پارسي غزلې هم لیکلې دي.

## د دواړو نسخو لیکدود

دغه دواړه نسخې مې کرښه په کرښه سره پرتله کړي، د اکاډمۍ نسخه یې په (۱۳۳۴ ل) کې لیکلې؛ نو لیکدود یې د همدغو کلونو په معیار برابر لیکلی

دی، یواځې ځینې ټکي یې په یو ډول او بل ډول لیکلي او هغه بیا ما د اوسني لیکدود او معیار په اساس لیکلي دي، په کومو ځایونو کې چې لیکونکی سهوه شوی؛ نو د لمنلیک په شان یې په څنډه ببرته سهي کړی دی او ما یې بیا همغه سهي بڼه رااخیستې ده، ځینې ټکي یې په دوه ډوله لیکلي، د بېلگې په توگه:

په دواړو نسخو کې یې (زما) په (ز) هم لیکلی او په (ځ) یې هم لیکلی، ما بیا د (ز) بڼه غوره کړې ده، (چې) یې د (چه) په شکل لیکلې، ما بیا دغه د (چې) بڼه غوره کړې ده.

ډېره هڅه مې کړې ده چې متن په سهي او د امانت ساتنې په اساس بشپړ او په همغه ډول رانقل او راواخلم، تاسې باور وکړئ چې هیڅ ډول لاسوهنه، کمی، زیاتی او یا کوم ډول بدلونه مې پکې نه ده کړې، دا ومنئ چې یو متن برابرول او چاپول څومره گران کار او زړه خوړل دي؛ بس چې چا دا کار کړی وي؛ نو زور یې ورته معلومېږي.

د دغو یادونو پر اساس د مفتي عبدالحنان ځینې شعرونه یا پاړکي په ځینو کتابونو او فرهنگونو کې راغلي او ثبت شوي دي چې په ترتیب سره یې د موضوع د پېندنې په پار دلې درپېژنم:

**۱) پښتانه شعراء، دریم ټوک**: د پښتو ټولنې د تذکرو یوه لړۍ ده، چې تر دې دمه تر اووم ټوکه رسېدلې ده، په نوموړې تذکره کې د مفتي عبد الحنان په اړه د لومړي ځل لپاره څو په زړه پورې لنډ؛ خو هر اړخیز معلومات لیکل شوي، ادبي نړۍ ته لومړی د همدغې تذکرې له خوا پېژندل شوی دی.

د اروابښاد مفتي عبدالحنان داعي درې شعره يې راخيستي دي[1].

**۲) فرهنګ زبان و ادبيات پښتو، جلد اول**: ياد کتاب د هېواد د نامتو څېړونکي استاد زلمي هېوادمل اثر دی، د فرهنګ په شکل د پښتو ټول پخواني او نومورکي ليکوال، شاعران او مؤرخان راپېژني، چې په همدې اساس په نوموړي فرهنګ کې د اروابښاد عبدالحنان په باره کې لنډ معلومات رااخيستل شوي او له معلوماتو سره يې يو بيت د بېلګې په توګه راخيستی دی[2].

**۳) اولسي سندرې، لومړی، دويم او درېيم ټوک**: دا د بېلابېلو ولسي شاعرانو د لنډې پېژندګلوۍ او د شعرونو د ترتيب په اساس تذکره ډوله څېړنيز کتابونه دي، چې د هېواد نامتو څېړونکي استاد زلمي هېوادمل ليکلي، دغه کتاب يې په درېو ټوکو کې له (۱۳۶۱ ل) کلونو راپه دېخوا ليکلی، په لومړي ټوک کې يې (۱۴۰) تنه ولسي شاعران له شعري بېلګو سره راپېژندلي دي، په دويم ټوک کې يې (۹۲) تنه ولسي شاعران او په درېيم ټوک کې يې (۸۱) تنه ولسي شاعران له شعري بېلګو سره راپېژندلي دي.

په لومړي ټوک (۲۵) لمبر شاعر يې همدا عبدالحنان داعي راپېژندلی او (۳۳- ۷٦) نومره سندرې د اروابښاد مفتي عبدالحنان داعي دي، دواړه شعرونه په نسخو کې شته.

په دويم ټوک کې (۵٦) لمبر شاعر يې عبدالحنان راپېژندلی او په دې ټوک کې يې يوه سندره د (۳۰۳) نومرې لاندې رااخيستې ده، ياد شعر يې هم

[1]: پښتانه شعراء، درېيم ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۴۲ ل.

[2]: فرهنګ زبان و ادبيات پښتو، لومړی ټوک، زلمی هېوادمل، د ښوونې او روزنې وزارت، د تأليف او ترجمې رياست، ۱۳۵٦ ل.

په نسخو کې شته او د اولسي سندرو په درېيم ټوک کې يې بيا په (۴۹) لمبر لاندې عبد الحنان راپېژندلی او د (۴۷۱- ۵۳۳) نومرې سندرې د همدغه حنان دي، دواړه شعره په نسخو کې شته[۱].

**۴) د مفتي عبدالحنان داعي ديوان**: نوموړی ديوان ښاغلي محمد حسين احمدي ترتيب او چاپ کړی، ښاغلي احمدي پرې اووه مخيزه سريزه ليکلې او د نوموړي په وينا ياد ديوان يې د ځينو مشرانو او کليوالو خلکو له خولو، له کېسټو او د پښتو ټولنې د ثبت نسخې له مخې ترتيب او منظم کړی دی، په دغه ديوان کې غزلې او يواځې يو څو چاربيتې رااخيستل شوې دي، په شعرونو او غزلو کې يې لاسوهنه هم شوې؛ خو د ستاينې وړ دی.

دانش خپرندويې ټولنې د زرو ټوکو په شمېر په ۱۳۸۱ ل کې چاپ کړی دی.

**۵) ولسي شاعران**: دغه يوه سيمه ييزه تذکره ده، ما (ب. زرغون) په تېرو لسو کلونو کې د معلوماتو په شکل راټوله کړې ده، وروسته د دانش خپرندويې ټولنې له خوا په لغمان کې د غازي محمدشاه خان بابکرخېل د سيمينار په وياړ د زرو ټوکونو په شمېر چاپ کړې، په دغې تذکره کې د عبدالحنان په نامه يو څو کرښې راغلي او يوه ناچاپه چاربيته يې پکې چاپ کړې ده[۲].

---

[۱]: اولسي سندرې، لومړی، دويم او درېيم ټوک، زلمی هېوادمل، خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي، اطلاعاتو او کلتور وزارت او د قومونو او قبايلو وزارت، ۱۳٦۱، ۱۳٦٦ او ۱۳۷۰ ل کلونه.

[۲]: ولسي شاعران، تذکره، ليکوال: بشرمل زرغون عبدالرحيمزی، چاپځی: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۰ ل.

د دغو کتابونو تر څنګ یو چا راته وویل چې د جرګې مجلې په یوې ګڼې کې د ارواښاد عبدالحنان په اړه څه لیکل شوي دي، ما ډېره هڅه وکړه چې یاده مجله پیدا کړم؛ خو و نه توانېدم.

**(۴)**

## دا کلیات

د کلیاتو د چاپ او له څه ویلو وړاندې لومړی ما هغه کیسه په یو ترتیب لیکلې او ورپسې مې د کلیاتو د چاپ لامل هم ویلی؛ خو لومړی د (ب) نسخې د پیدا کېدو کیسه:

په کلي او ولس کې اوسېدنه او پایېدنه یو بېل هنر او بېله اوسېله غواړي، د کلیوالو په خوی بوی پوهېدل او له هغو سره ځانګړی چلند دا بیا بېله لاره ده، له کلیوالو سره اړیکې او تګ راتګ پالل دا هم بیا بېله لاره او طریقه غواړي، په کلي او ولس کې که یو څوک کوم کار تر سره کړي؛ نو بیا د ټولو ورته پام وا وړي، اخ! دا خو پلانی دی کنه!.

تاسې باور وکړئ چې زه له دې ډول پېښو سره ډېر زیات مخ شوی یم، زما کورنۍ له پخوانه د پخوانو سندرغاړو د پیتو(کېسټو) شوقیان او ساتونکي وو، یو وخت راغی، زه پوهنتون ته تلم راتلم، دغه د پخوانو سندرغاړو کېسټې به مې یو وخت ناوخت د ترونو له غړونو او د ټایپ له لارې اورېدې، بدلې به مې یو وخت ورسره په خپل غږ نرۍ- نرۍ تاوولې، په دغو بدلو کې مې د ګل محمد(ګلکي استاد) بدلې ډېرې زیاتې اورېدې، د ګلرنګ استاد هم وې؛ خو د ګلکي استاد یو بېل انداز او بېل شعرونه وو، د بدلو استاذ یې هم معلوم وه، د ګلرنګ استاذ، د نورو سندرغاړو استاذان بیا سره ګډ وو.

د دغو بدلو د اورېدلو په وخت به مې له خپل کاکا غلام سید سېلاب عبدالر حیمزي نه هر وخت دا پوښتنه کوله، چې دا ګلکی استاذ خو د عبدالحنان شاعر په نامه ډېر زیات شعرونه وایي؟ دا ماته یو بېل ځانګړی شاعر او د ځانګړ ې لارې خاوند ښکاري، هغه به راته په کلیوالي او ولسي خبرو راتېز شو او راته کړه یې:

هو! حنان په کیسو او چاربیتو کې یو استاذ شاعر دی، هغه ډېر قوي شاعر دی، له مهتدینه پرته بل سړی یې جوګ نه شي کېدای، دا ته ومنه چې هغه وخت کې په ولسي شاعرۍ او په کلیوالي بدلو او دېره یي مجلسو کې دا دواړه ښه تکړه شاعران وو او دا دوه بدلزن یې ښه قوي شاګردان وو[1].

یو څو وار مې له خپل منلي مشر تره انجینر عبدالله خان زرغون عبدالر حیمزي سره هم عبدالحنان یاد کړ، دغه تره مې راته وویل چې ملا عبدالحنان د لغمان دی او یو ډېر تکړه او پیاوړی شاعر تېر شوی، دی د لغمان په شاعرانو کې ډېر قوي او برلاسی برېښي، خپل رقیب یې تر ډېرې زغلولی، هېڅا ته یې کمه نه ده ویلې، نوموړي هر ډول شاعري کړې او ګوره! د ده د شاعرۍ یو غټ کتاب ما له ښاغلي معلم صیب حیات الله سره لیدلی، له هغه نه پوښتنه وکړه، کېدای شي ورسره وي[2].

یو څو کلونه تېر شول، له پوهنتونه خلاص شوم، په کرغیو ولسوالۍ کې مې دنده واخیسته، د دندې د کارونو د ترسره کولو پرمهال مې یوه ورځ ډېر ګران

[1]: غلام سېد سېلاب عبدالرحیمزی، زما کاکا، تر دې دمه ژوندی دی، د ولسي شاعرۍ ښه زېرمه ورسره ده، تر ډېره یې راسره مرسته کړې، زه یې منندوی یم.

[2]: انجینر عبدالله خان زرغون عبدالرحیمزی، زما مشر او منلی تره، الله دې روغ صحت ورکړي، تر اوسه ژوندی دی، نوموړي کاکا مې ډېره ولسي شاعري د کتابچې مخې ته رااړولې ده، زه یې احسانمن یم.

استاد ښاغلی حيات الله حقدوست وليد، ستړې مشي مې ورسره وکړه، خبرې مو سره کولې، په خبرو- خبرو کې مې ورته وويل چې استاده! د عبد الحنان په نامه کوم شاعر پېژنې؟ هغه راته کړه:

ولې نه! هغه زه ښه پېژنم، له خوريي سره يې زموږ څه خپلوي هم شته.

ما ورته وويل:

که کتاب يې درسره وي؛ نو ماته يې راکړه چې زه پرې کار وکړم.

هغه راته وويل:

کتاب يې نه لرم؛ خو يو څه وخت وروسته يې راته وويل چې د خوريي په کور کې يې د شعرونو يوه نسخه شته، زه ډېر خوشحاله شوم، څه وخت وروسته يې بيا وليدلم او راته يې وويل چې نسخه مې کور ته راوړې او مازيگر ته راشه چې سره يې وگورو.

زه په همدې ورځ له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځايېدم، وخت راته ډېر ښکارېده، گرمي هم وه، يو څه اندازه تم شوم، وروسته کرار- کرار وروان شوم او د کور په مخ کې يې دېره جوړه کړې وه، په کټ کې کېناستم او استاد راته نسخه له کوره راووېستله، په ليدو يې ډېر خوښ او خوشحاله شوم، له خوشحالۍ مې ځو ځل چپ کړه، معلم صيب راته وويل چې کتاب درسره واخله، ويې گوره او چاپ يې کړه[1].

---

[1]: معلم صيب حيات الله حقدوست، په کرغيو لېسه کې استاد دی، شعر هم ليکي او له شعر سره يو نيم وخت ليکل هم کوي، الله دې خوشحاله لري، ما سره يې د دويمې نسخې په پيدا کولو کې ډېره مرسته کړې، ترې مننه کوم.

ما نسخه راواخیسته او له همغې ورځې مې کار پرې پیل کړ، لږ- لږ مې کمپوز کړه، ډېر وخت وروسته نسخه خلاصه شوه، دا دی اوس مې علومو اکاډمۍ ته سر راوخوت، دلته د ارواښاد مفتي عبدالحنان اصلي نسخه چې د ارواښاد محمدسرور سودمند له خوا لیکل شوې؛ هم ولیده، کار مې تر دغې نسخې راورسېد، کله مې چې د اکاډمۍ نسخه ولیده؛ نو ما لومړی خپله نسخه او بیا مې د اکاډمۍ نسخه سره پرتله کړې؛ نو همدا نسخه مې د کار اصل وګرځوله او دا مې ځکه اصل وټاکله، چې دا نسخه یو څه بشپړه او مخکې لیکل شوې، بل په نسخې ارواښاد سودمند ډېر په زړه پورې کار کړی، په منظم ډول یې ترتیب کړې، نوم یې ورته (د مفتي عبدالحنان داعي کلیات) ایښی، شعرونه یې په ترتیب سره جلا کړي، لومړی یې دیواني غزلې راوړي او بیا یې ولسي شاعري په ترتیب سره بېله کړې، چاربیتې ته یې د ځلوریز نوم ورکړی، یو څو مخیزه سریزه یې هم پرې لیکلې، ما د نوموړي سریزه کټ مټ کمپوز کړه او دا د دې لپاره چې د سودمند د کړي کار حق هم ادا شي؛ خو حیف!! چې نسخه سانسور شوې، ډېر شعرونه ترې وېستل شوي دي[1].

ما د کلیاتو په ترتیب کې له ډېر دقته کار اخیستی، کوم شعرونه چې په نسخو او چاپي دیوان کې نه وو؛ هغه مې له کېسټو راخیستي، یو نیم شعر مې د تره له زړو کتابچو هم راخیستی دی، په لمنلیکونو کې ورته نغوته شوې ده.

[1]: د څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي د خولې وینا ده، نوموړي استاد وویل چې په ځانګړي ډول مې نه دي په یاد؛ خو دومره مې یادېږي چې شاوخوا (۴۵) کاله دمخه یوه کس د مفتي عبدالحنان په نامه د اشعارو یوه غټه او پېړه نسخه راوړه او یو څه وخت وروسته په اکاډمۍ کې یو څو کسانو وویل چې دا نسخه د ځینو ملاحظو له مخې باید سانسور شي، په کومو شعرونو کې چې ځینې رکیک الفاظ راغلي دي؛ هغه باید چاپ نه شي.
ربښتیا هم که همدغه نسخه وي؛ نو نوموړې نسخه ډېره شلېدلې ده، پاڼې یې په ملا کې نیمې شوي او بیا بېرته ورپورې سلیخ شوې دي.

د ارواښاد مفتي عبدالحنان داعي د ديوان او يا د بشپړ کلياتو د ترتيب او چاپ راسره له پخوانه دا هيله وه؛ خو کله چې مې له معلم صيب حقدوست نه د حنان دويمه نسخه تر لاسه کړه؛ نو هيله مې يو په دوه شوه، له همغه وخته مې هوډ وکړ، ځينې خواره واره شعرونه، کيسې، يو نيم مقام، يا داستان که مې چېرته اورېده؛ يا به مې تر سترګو شو؛ نو له ځان سره مې ليکه او په منظم ډول مې ساته.

د مفتي حنان د ديوان د چاپېدو راته يو وخت چا وويل چې ديوان يې چاپ شوی، زه ډېر خوشحاله شوم، کله چې مې ديوان واخيست او ومې کوت؛ نو ډېر نيمګړی و، زړه مې اوبه پرې و نه ځښلې، ما مې ترونو ته هم وويل، هغو ديوان وکوت، د کتو پر وخت به يې راته ويل:

هغه پلانی شعر پکې نشته، هغه پلانی غزل پکې نشته او... د همدغو نيمګړتياوو او نه شتون زه نور هم بې صبره کړم؛ نو همدغه لاملونه وو چې د حنان د شعرونو بشپړ کليات مې پيل او په منظمه توګه مې ترتيب او دا دی انشاءالله چاپ شو.

د کتاب په چاپ او نورو برخو کې ډېرو ملګرو او مشرانو راسره خواري او زحمت ګښلی، زه يې احسانمن او پوروړی يم، ترې ډېره مننه کوم، د مننې تر ځنګ ورنه ډېر خوشحاله هم يم.

لومړي سر کې خو د افغانستان د علومو اکاډمۍ له درانه او منلي رئيس ښاغلي څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکيب څخه د زړه له کومې مننه کوم، زه يې ډېر احسانمن او پوروړی يم، خدای دې خوشحاله او ښه لري، د ستاينې هېڅ توري ورته نه لرم، بيا هم له خدايه يې ښه غواړم.